I ضمیمه
مقرره 738-1

**د ټائټل IX قانون تر لاندی د جنسي ځوروني رسمي شکایت**

یو شکایت کوونکی کولی شي چې د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځیو (PWCS) د ټائټل IX کوردیناتور ته د ټائټل IX جنسي ځوروني د رسمي شکایت ("رسمي شکایت") دا فورمه کارولو سره دا غوښتنه وکړي چې PWCS دی د ټائټل IX ("ټائټل IX جنسي ځورونه") قانون تر لاندې د جنسي ځوروني ادعا/تور وڅېړي چې پکی یو یا زیات زده کوونکي شامل وي، لکه څرنګ چې دا اصطلاح د PWCS په مقرره 738-1 کې تعریف شوي ده. یو مور/پلار هم کولی شي چې د ماشوم په استازیتوب رسمي شکایت ثبت کړي؛ یا، چیرته چې لازمی وي، د ټائټل IX کوردیناتور کولی شی د هغه رسمي شکایت په لاسلیک کولو سره چې د متهم یا ځواب ویوونکي پر ضد پکی د ټائټل IX جنسی ځورونی ادعا شوي وي، څېړنه پیل کړي. د تر لاسه کولو سره سم، رسمي شکایت به په سمدستي ډول څېړل/کتل کیږي او د ټائټل IX کوردیناتور لخوا به ورته ځواب ویل کیږي یا غبرګون ښکاره کیږي.

د جنسي بنې هر ډول ناوړه چلند د ټائټل IX جنسي ځورونه نه په ډاګه کوي یا تشکیلوي. د ناوړه جنسي چلند یو داسی تور چې متهم یا ځواب ویوونکی زده کونکي پکې شامل وي کوم چې د ټائټل IX تر لاندی جنسي ځورونه نه په ډاګه کوي، هغی ته به د PWCS په "چلند کوډ" کی د ټاکل شوي انضباطي طرزالعملونو یا کړنلارو ترلاندی ځواب ویل کیږي، څېړل کیږي او حل کیږي. د PWCS کارکوونکی یا د PWCS تر کنټرول لاندې د دریم جانب لخوا د ناوړه چلند تور یا ادعا به د هغه کړنلارو سره په مطابقت حل کیږي چې د PWCS کارکوونکی د ناوړه چلند په څېړنه او حل باندی د پلی کیدو وړ دي.

که تاسو د رسمی شکایت ثبتولو په شمول د ټائټل IX د شکایت پروسې په اړه کومی پوښتنی لرئ، مهرباني وکړئ د PWCS د ټائټل IX کوردیناتور سره په 8595 -374-571 شمیره یا د TitleIXEquity@pwcs.edu بریښنالیک له لارې اړیکه ټینګه کړئ.

**وړوالی:** په هغه وخت کې چې رسمي شکایت ثبت کیږي، شکایت کوونکی باید د PWCS کارکوونکی وي یا د PWCS په تعلیمي پروګرام کی ګډون کوي یا د ګډون کولو هڅه کوي.

**وسعت/پراختیا:** د ټائټل IX د حفاظتونو یا خوندیتوبونو پر ځائ کولو لپاره، اړینه ده چې د ټائټل IX جنسي ځورونه په متحده آیالاتو کې او په یو داسي تعلیمي پروګرام یا فعالیت کی دننه رامینځته شوی وي چې د PWCS لخوا پر مخ وړل کیږي. یوه داسی ادعا چې پکی ویل شوي وی چې یو زده کوونکي د جنسي نوعیت په ناوړه چلند کی ښکیل شوئ دی کوم چې بل ځائ کی رامنځ ته شوي وي، هغی ته به د PWCS په "چلند کوډ" کې د ټاکل شوي انظباطي کړنلارو تر لاندی ځواب ویل کیږي، څېړل کیږي او حل کیږي، که چیرته د پلی کیدو وړ وي. د PWCS کارکوونکی یا د PWCS تر کنټرول لاندې د دریم جانب لخوا د ناوړه چلند تور یا ادعا به د هغه کړنلارو سره په مطابقت حل کیږي چې د PWCS کارکوونکی د ناوړه چلند په څېړنه او حل باندی د پلی کیدو وړ دي.

**محرمیت:** تر کومه حده پوری چې امکان ولري، د رسمي شکایت او څېړني پوری اړوند معلومات به محرم ساتل کېږي، په استثناء د دی چې په بشپړ ډول او په شفافه ډول د څېړني د ترسره کولو یا د مسؤولیت مشخص کولو او/یا انظباطی بندیزونو پر ضد د اپیل کولو ؛ متهم ته اجازه ورکولو لپاره چې د خپل ځان څخه دفاع وکړي، د مناسبو ملاتړي تدابیرو او حل لارو تطبیقولو؛ احضار ، د محکمې امر یا د حکومت لخوا څېړني ته ځواب ویلو لپاره؛ یا د رسمي شکایت په نتیجه کې رامینځته شوي هر قانوني اقدام یا د شکایت پروسه کې د PWCS یا یې د کارکوونکو څخه د دفاع کولو لپاره افشا کول اړین وي.

**غلط بیانونه ورکول منع دي:** یو زده کوونکی چې په پوهې سره یا قصدا ناسم راپور ورکوی یا شکایت کوي، یا یو په پوهې سره ناسم بیان ورکړي، د PWCS "د چلند کوډ" تر لاندې به د ډسپلین کیدو تابع وي. په همدې توګه، هر هغه کارکوونکی چې په پوهې سره یا قصدا ناسم راپور ورکوي یا شکایت کوي، یا په پوهې سره ناسم بیان وړاندې کړي، نو د 503-1 مقررې, "ټولو کارکوونکو لپاره په مسلکی ډول د چلند کولو معیارونه"; او 572-1 مقررې, "انضباطي اقدام" تر لاندې به د ډسپلین کیدو تابع وي، په هغې کې د وظیفي څخه تر اخراج پوری اقدام شامل دی.

**غچ اخیستنه او/یا مداخله کول منع دي:** د یو داسی کس پر ضد غچ اخیستونکی اقدام تر سره کول په کلکه سره منع دی چې د ادعا شوي ناوړه جنسی چلند په اړه راپور ورکوي؛ د ټائټل IX جنسی ځورونی رسمي شکایت ثبتوي؛ یا څوک چې د ټائټل IX جنسي ځوروني په څېړنه کې مرسته کوي، پکی ګډون کوي یا پکی له ګډون څخه انکار یا منع کوي. زده کوونکي او کارکوونکی نشي کولی په څېړنه کې مداخله وکړي یا پکی حلل رامنځ ته کړي او دا هم نه شي کولی چې د کوم شاهد په شاهدي ویلو باندی اثر/اغیزه ولري یا د اثر لرلو هڅه وکړي. د یو زده کوونکي دا ډول ناوړه چلند به د PWCS "د چلند کوډ" تر لاندې حل کیږي او ښایي چې د انضباطي اقدام پایله ولري، چې په هغې کې د PWCS څخه تر اخراج پوري اقدام شامل دی. د یو کارکوونکی لخوا دا ډول چلند به غیر مسلکي چلند ګڼل کیږي چې د 503-1 مقررې، "د ټولو کارکوونکو لپاره د مسلکي چلند معیارونه"؛ او 572-1 مقررې، "انضباطي اقدام" تر لاندی به د ډسپلین کیدو وړ وي چې په هغې کې د وظیفي څخه اخراج کولو پورې اقدام هم شامل دی.

1 د 738-1 مقررې موخی لپاره، د PWCS د "چلند کوډ" په حوالو کې مقرره 681-1، "د زده کړي غیر دودیز پروګرامونه"؛ 743-1، "د زده کوونکو ډسپلین"؛ 744-1، "د زده کوونکو په لنډمهاله توګه ځنډونه"؛ 745-1، "د زده کوونکو په اوږدمهاله توګه ځنډونه یا اخراج"؛ 745-2، "د معلولیت لرونکو زده کوونکو ډسپلین"؛ 745-3، "د اوړي ښوونځي زده کوونکو ډسپلین"؛ او د PWCS "د چلند کوډ" شامل دي.".

**I برخه: شکایت کوونکی** (د ادعا شوي ناوړه چلند موخه.)

نوم:______________________________________________________________________________

د زده کوونکی آیی ډی نمبر (که د پلی کیدو وړ وي):________________________________________________________

د مور/پلار نوم (که د پلی کیدو وړ وي):____________________________________________________________

د مور/پلار بریښنالیک پته:_____________________________________________________________________

د مور/پلار تلیفون شمیره:_____________________________________________________________________
کور/دندی شمیره

ښوونځی:_______________________________________________________________________________

د PWCS سره اړیکه: □ زده کوونکی □ مور/پلار □ د PWCS کارکوونکی

**د خبرتیاوو د تر لاسه کولو پته:** د رسمي شکایت په اړه ټولي خبرتیاوې او لیکونه به په الیکترونکي توګه او د متحده ایاالتو د پوسټ له لاری لاندی ذکر شوي پتو ته لیږل کیږي.

نوم:___________________________________________________________________________

د پوسټ یا میل پته:___________________________________________________________________

د بریښنالیک پته:____________________________________________________________________

**II برخه: ځواب ویوونکی (متهم)** (هغه کس چې په ادعا شوي توګه یی ناوړه چلند تر سره کړئ)

نوم:______________________________________________________________________________

ښوونځی یا ځانګه:______________________________________________________________________

د PWCS سره اړیکه: □ زده کوونکی □ د PWCS کارکوونکی □ بل څوک____________________________________

که د ځواب ویوونکو (متهمینو) شمیر زیات وي، نو د هر یو متهم د ښوونځی او د PWCS سره د اړیکی په شمول د هر یو د لیسټ کولو لپاره اضافی کاغذ وکاروئ. (د دی فورمې په شا طرف کی یا څنډو کې څه لیکل مه کوئ.)

**III برخه: د ټائټل IX جنسي ځورونی تور/ادعا**

(که نور ځای ته اړتیا وي، اضافه پاڼه وکاروئ، او د دی فورمی سره یی ضمیمه کړئ. د دی فورمې په شا طرف کی یا څنډو کې څه لیکل مه کوئ.)

1. لاندې ځائ کی هغه بکس په نښه کړئ چې ادعا شوي ناوړه چلند په غوره توګه بیانوي.
   - □ شکایت کوونکی د PWCS په پروګرام یا فعالیت کې د جنسي ماهیت د نا غوښتلی ناوړه چلند سره مخ شوی وو چې شدیر، پراخه، او تیری کوونکی وو.
   - □ شکایت کوونکی د PWCS په پروګرام یا فعالیت کې د مینی محبت تاوتریخوالی، کورني تاوتریخوالی، جنسي تیري، او/یا د تنګولو سره مخ شوی وو.
   - □ د PWCS مرستی، ګټي، یا خدمات تر لاسه کولو لپاره شکایت کوونکی ته د PWCS کارکوونکی لخوا په ناوړه جنسی چلند کی د ښکیل کیدو شرط کیښودل شوي وو.

2. د ټائټل IX ادعا شوي جنسي ځورونه په مشخص ډول چیرته رامنځ ته شوي وه؟

____________________________________________________________________________________

____________________________________________________________________________________

3. د ټائټل IX ادعا شوي جنسي ځورونه کله پیښه شوي وه؟ (که امکان ولري، مشخصی نیټه/نیټی او وخت/وختونه وړاندی کړئ؛ په بل صورت کی، د وخت اندازه وړاندی کړئ.)___________________________________________________

____________________________________________________________________________________

____________________________________________________________________________________

4. ادعا شوې پېښه تشریح کړئ، د امکان تر حده ډیر وضاحت وړاندې کړئ.

*د دې سند په لاسلیک کولو سره، زه دا تصدیق کوم چې په دې رسمي شکایت کې موجود معلومات زما د غوره پوهې سره سم او ریښتیني دي او زه دا غوښتنه کوم چې PWCS دې د تائټل IX جنسي ځورونې تورونه وڅیړي.*

نوم: ______________________

د PWCS سره اړیکه: □ زده کوونکی □ مور/پلار □ د PWCS کارکوونکی

لاسلیک: ______________________ نیټه: ______________________

رسمي شکایت د متحده ایاالتو د پوسټ، الکترونیکي بریښنالیک، یا فاکس له لارې د تائټل IX کوردیناتور ته لیږل کېدی شي؛ دا
14715 Bristow Road, Manassas, Virginia پتې ته لاس په لاس هم وړل کیدی شي.

د پوسټ یا میل پته: د PWCS تائټل IX کوردیناتور
د پرنس ویلیم کاؤنټي عامه ښوونځي
P.O .Box 389
Manassas, Virginia 20108

بریښنالیک: TitleIXEquity@pwcs.edu